# د اولیائے کرامو د کراماتو ثبوت

**02-November-2023**



هفته وار د سُنّتونو ډکه اجتماع کښې کیدونکے

د سُنّتونو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

په 2 نومبر کال 2023ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د اولیائے کرامو د کراماتو ثبوت

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... د حدیثِ قُدسي نه د کراماتو ثبوت
- ... په قرآنِ کریم کښې د کراماتو ذِکر
- ... د خاتونِ جنت رَضِیَ اللهُ عَنْهَا یو کرامت
- ... په حدیثونو کښې د کراماتو بیان

پیشکش:

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ :بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

*For Feedback*:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ،

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ **(ترجمه:** ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاك فضیلت

یو ځل حضرت شیخ محمد بن سلیمان جَزُولي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اودس کولو دا پاره اودریدو نو هلته کوهے خو وو خو د اوبو راویستو د پاره څه څیز (بوقه او رسۍ) نه وه. هغوئي په دې فکر کښې وو چې د دې کوهي نه اوبه څنګه حاصلې کړي (د پاره د دې چې اودس اوکړي او په وخت لمُونځ ادا کړے شي). ناڅاپه د کور نه یوې ماشومې اوکتل او پوښتنه ئې اوکړه: تاسو څوک ئې؟ اوئې فرمائیل: محمد بن سلیمان جَزُولي (رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه). ماشومې په حیرانتیا سره اووئیل: ښه! هم تاسو ئې څوک چې ډیر مشهور دے او حال مو دا دے چې د کوهي نه اوبه نشئ راویستے! د دې وئیلو سره هغې ماشومې په کوهي کښې توك کړل.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! کمال اوشو! د هغې وړې ماشومې د توك کولو سره فوراً اوبه بره راغلې او د کوهي نه راتوئي کیدلې. حضرت شیخ محمد بن سلیمان جَزُولي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې د اوداسه نه فارغ شو نو هغه باکماله ماشومې ته ئې اوفرمائیل: زه تاسو له قسم درکووم او پوښتنه درنه کووم چې تا دا کمال څنګه حاصل کړو؟ اوئې وئیل: زه په رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې ډیر زیات درودِ پاك لولم. نو شیخ سلیمان جَزُولي

رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ قَسم اوخوړو چې په نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې به د درود شریف لوستلو په موضوع باندې کتاب لیکم.[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** تاسو اوکتل چې د نبئ رحمت، شفیعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ذات باندې د زیات درود شریف لوستلو سعادت حاصلوونکې ماشومې ته الله پاک څومره ښکلے کرامت عطا کړو چې د هغې په توك کولو باندې د کوهي د غاړو نه اوبه راتوئې شوې، کاش د هغه باکماله ماشومې په وسیله مونږ او زمونږ بچو ته هم د زیات درود سعادت حاصل شي.

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! د دعوت اسلامي د دیني ماحول سره د تعلق لرونکو اسلامي وروڼو او خویندو سره سره واړه ماشومان او ماشومانې د ځان سره تسبیح ساتي او د مکي مدني سرکار، محبوبِ ربِ غفار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ذات باندې ډیر زیات درود و سلام لولي. خاص طور د عوت اسلامي د جامعاتُ المَدینه او مدارس المَدینه بوائز اینډ ګرلز بعضې نارینه او زنانه طالب علمان هره ورځ بغیر د قضا کولو نه څو څو زره ځله د درود شریف لوستلو برکتونه حاصلوي.

ذکر و درود ہر گھڑی وردِ زباں رہے | میری فضول گوئی کی عادت نکال دو[2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]... سعادۃ الدارین، الباب الرابع فیما ورد من لطائف...الخ، اللطیفۃ الخامسۃ عشرۃ بعد المائۃ، ص:158

[2]... وسائلِ بخشش، صفحه:305۔

## د بیان اوریدلو نیتونه

په **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار په نیتونو باندې دے.[1]

**اے عاشقانِ رَسُول!** د ښه ښه نیتونو سره د عمل ثواب زیاتیږي. راځئ! د بیان اوریدو نه مخکښې څه ښه ښه نیتونه اوکړئ! مَثَلاً نِیَّت اوکړئ چې ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت به بااَدبه کښینم ❀ ښه په توجُّه به بیان اورم ❀ څه چې اورم، د هغې د یادولو، پخپله د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش به کووم.

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## په دُعا باندې ئې قسمت بدل کړو

زمونږه د پیر حُضور غوثِ اعظم شیخ عبد القادر جیلاني رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه په وخت مبارک کښې ابو مظفر نومې یو سوداګر وو. یو ځل دے د شیخ حمّاد رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه په بارګاه کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: حُضُورا! زه د تجارت د پاره مُلکِ شام ته ځم. تاسو ته د دُعا خواست دے.

ولي خو آخر ولي وي، د هغوئي نظر لوحِ محفوظ هم ویني. شیخ حمّاد رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د هغه د قسمت حال معلوم کړو او د غیبو خبر ورکولو سره ئې اوفرمائیل: تاسو خپل سفر في الحال پریږدئ! که لاړئ نو ډاکوان به ټول مال لوټ کړي او تاسو به قتل هم کړي.

سوداګر چې دا خبره واوریده نو ډیر اوویریدو، د دې پریشانئ په حالت کښې بیرته راروان وو چې حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه ورسره په لار کښې میلاؤ شو. پوښتنه ئې

[1]... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

اوکړه: ولې پرېشانه ئې؟ سوداګر ابو مظفر ورته ټوله واقعه بيان کړه. حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: پرېشانه کېږه مه، په شوق سره د مُلكِ شام سفر اوکړه! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! هر څه به بهتر شي. سوداګر ابو مظفر د هغوئي خبره اومنله او د قافلے سره مُلكِ شام ته روان شو، هغه په کاروبار کښې ډېره ګټه اوکړه، د دې سفر په دوران کښې سوداګر ابو مظفر يو خطرناک خوب اوليدلو، څه ګوري چې ډاکوانو په قافله باندې حمله کړې ده او ټول مال ئې لوټ کړے دے او دے ئې هم وژلے دے. د وېرې نه د هغه سترګے اوغړېدلې، د وېرېدو سره چې راپاڅېدو نو هلته څه ډاکو وغيره نه وو.

دے د ډېرې ګټې سره په خوشحالئ خوشحالئ بغداد ته اورسېدو. بيا ئې سوچ اوکړو چې وړومبے د غوث پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره ميلاؤ شم يا د شيخ حمّاد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره! [ميلاؤ شم]، اتفاقاً په لاره کښې ورسره شيخ حمّاد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ميلاؤ شو. هغوئي چې سوداګر اوليدلو نو ورته ئې اوفرمائيل: وړومبے لاړ شه او د حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره ميلاؤ شه چې هغه محبوب رَبَّاني دے، هغوئي ستا د پاره 17 ځله دُعا کړې وه، بيا هله ستا قسمت بدل شو، د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دُعا په برکت الله پاک ستا سره کيدونکې واقعه د بيدارئ نه په خوب کښې بدله کړه.[1]

| | |
|---|---|
| کِھلا میرے دِل کی کلی غوثِ اعظم | مٹا قلب کی بے کلی غوثِ اعظم |
| نہیں کوئی بھی ایسا فریادی آقا | خبر جس کی تم نے نہ لی غوثِ اعظم |
| صدا گر یہاں میں نہ دُوں تو کہاں دُوں | کوئی اور بھی ہے گلی غوثِ اعظم |
| جو قسمت ہو میری بُری اچھی کر دے | جو عادَت ہو بد کر بھلی غوثِ اعظم[2] |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]... بهجة الاسرار، ذكر فصول من كلامه مرصعا...الخ، صفحه: 64 خلاصةً.

[2]... سامانِ بخشش، صفحه: 120119 ملتقطًا.

## کرامت حق دے

اے عاشقانِ رَسُول! د اولیائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم شان ډېر اوچت دے، دا نیکان بندګان د الله پاک ډېر محبوب او خوښ وي، رَبِّ کائنات دوئي ته ډېر لوئے لوئے انعامونه عطا کوي، په دې کښې یو انعام کرامت هم دے. کرامت یقیناً حق دے، د نبوت د زمانے نه تر اوسه پورې چرې هم په دې مسئله کښې د اهلِ حق ترمینځه اختلاف نه دے راغلے، د ټولو شریکه عقیده ده چې د صحابهٔ کرامو علیهم الرّضوان او اولیائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم کرامتونه حق دي او په هره زمانه کښې د الله والؤ نه کرامات ظاهر شوي دي او اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! تر قیامته پورې به اولیائے کرام تشریف راوړي او د هغوئي نه به کرامات هم ظاهرېږي.

## کرامت څه ته وئیلے شي؟

د **کرامت** مطلب دے: د وَلِـیُّ الله نه ظاهرېدونکے داسې کار کوم چې عادتاً مُحال وي یعنې د ظاهري اسبابو په ذریعه د دې ظاهرېدل ممکن نه وي. مړے ژوندے کول، دا عادتاً ممکنه نه ده، که یو وَلِـیُّ الله، د الله پاک په عطا سره مړے ژوندے کړي نو دې ته به **کرامت** وئیلے شي، هم داسې صرف د لاس وروړلو سره، په سترګو د لیدلو سره علاج نه لرونکي مریض ته شفا عطا کول، د څه آلے (مثلاً موبائل وغیره) نه بغیر د لرې نه اورېدل، د زړه په خبره پوهېدل، مدد ته رسېدل، د سوونو کلومیټره مزل د سورلۍ نه بغیر په منټونو کښې کول وغیره، داسې کار که د وَلِـیُّ الله نه ظاهر شي نو دې ته **کرامت** وئیلے شي، که داسې کارونه د الله پاک د رښتیني انبیاؤ عَلَيْهِمُ السَّلَام نه ظاهر شي نو هغې ته **معجزه**

وئيلے شي[1] که د يو عام مؤمن نه داسې کار ظاهر شي نو هغې ته **مَعُونَت** وئيلے شي.[2]

## كرامت د معجزے فيضان دے

علّامه يُوسُف بن اسماعيل نبهاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د وَلي كرامت په اصل كښې د نبي معجزه وي (ځكه چې د ولي نه كرامت ظاهريدل د نبي عَلَيْهِ السَّلَام د رښتينوۍ دليل دے چې د كوم نبي عَلَيْهِ السَّلَام د پيروكار دا شان دے، نو پکار ده چې هغه نبي شان او عظمت څه وي). نور ليكي: كله چې بنده خپل نفس، خپل نفساني خواهشات ختم كړي او هر قسمه د الله پاك په رضا كښې راضي شي، هغه كار كوي په كوم كښې چې د الله پاك رضا وي، د كومو كارونو نه چې الله پاك منع فرمائيلې ده، د هغې نه مخ واړوي، غرض دا چې خپل ځان د الله پاك په خوښه كښې فنا كړي نو الله پاك هم په خپل رحمت، په خپل فضل د هغه بنده خوښه پوره كوي.[3]

## د صحابئ رسول كرامت

حضرت سلمان فارسي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مشهور صحابئ رسول دے. يوه ورځ هغوئي د مدائن ښار نه را اووتل، د هغوئي يو ميلمه هم د هغوئي سره وو، (په لاره كښې په يو ځنګل تيريدل)، هوسۍ په ځنګل كښې ګرځيدلے او مرغۍ په هوا كښې اَلوتلے، حضرت سلمان فارسي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اوغوښتل چې د ميلمه ميلمستيا اوكړي. نو هغوئي هوسو او مرغو ته آواز اوكړو او اوئې فرمائيل: اے مرغو! په تاسو كښې دې يوه هوسۍ او يوه مرغۍ زما خوا له راشي، زه د خپل ميلمه ميلمستيا كووم.

---

[1]… شرح العقائد النسفيه، صفحه:314313 مفصلاً۔

[2]… لشرح العقائد المسمیٰ بالنبراس، صفحه:430۔

[3]… جامع كرامات الاولياء، المطلب الاول فى اثبات كرامات الاولياء…الخ، جلد:1، صفحه:13 ملتقطاً۔

قربان شم! د صحابئ رسول حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ آواز ئې چې واوریدو نو یوه هوسئ او یوه مرغئ د غاړې ښکته کولو سره په ادب په خدمت کښې حاضر شول. دا نظاره چې ئې اولیدله نو هغه کس ډیر حیران شو او د حیرانتیا په وجه د خُلے نه اووتل: سُبۡحٰنَ اللّٰه! حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ اوفرمائیل: آیا تهٔ حیران ئې؟ آیا تا داسې بنده لیدلے دے کوم چې د خپل رَبّ اطاعت کوي خو دا څیزونه (کوم چې د انسان د خدمت د پاره جوړ شوي دي دا) د هغه اطاعت نه کوي.[1]

اللّٰه! اللّٰه! معلومه شوه چې کرامات د اللّٰه پاک یو فضل دے کوم چې اللّٰه پاک خپل محبوب بندګانو ته عطا کوي.

## د حدیثِ قُدسي نه د کراماتو ثبوت

په **بخاري شریف** کښې یو **حدیثِ قُدسي** دے. **حدیثِ قُدسي** هغه حدیث شریف ته وئیلے شي، په کوم کښې چې فرمان د اللّٰه پاک وي او ژبه د مصطفٰے جانِ رَحمَت صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وي، په نورو لفظونو کښې داسې ځان پوهه کړئ چې په عامو حدیثونو کښې کلام د خوږ آقا، مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وي او صحابه راوِي (یعني د اوریدو سره وړاندې بیانوونکي) وي ولې په حدیثِ قُدسي کښې کلام د رَبِّ کریم وي او رسولِ رحمت، شفیعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راوِي وي. راځئ! د بخاري شریف حدیثِ قُدسي اورو:

د حضرت ابوهریره رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ نه روایت دے، د اللّٰه پاک خوږ نبي، مکي مدني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: اللّٰه پاک فرمائي: چا چې زما د یو وَلي [دوست] سره دُښمني

---

[1]... جامع کرامات الاولیاء، ہذا کرامات اربعة و خمسین ولیا...الخ، جلد:1، صفحه:116۔

اوکړله، زه د هغه سره د جنګ کولو اعلان کووم. بنده چې په کومو ذريعو ما ته نزدې کيږي، په هغې کښې زما د ټولو نه خوښه ذريعه فرائض (مثلاً لمُونځ، روژه، حج، زکوٰة وغيره) دي او زما بنده د نوافلو په ذريعه ما ته نزدې کيږي، نزدې کيږي، تر دې پورې چې زه د هغه سره محبت شروع کړم، بيا چې کله زه د هغه سره محبت کووم نو بيا زه د هغه غوږونه جوړ شم، په کومو چې هغه اوري، زه د هغه سترګې جوړې شم، په کومو چې هغه ويني، زه د هغه لاسونه جوړ شم، په کومو چې هغه نيول کوي، زه د هغه ښپې جوړې شم، په کومو چې هغه ګرځي، که چرې هغه زما نه غواړي نو زه هغه له ورکووم، که چرې هغه زما پناه غواړي نو زه هغه له پناه ورکووم.[1]

د قرآنِ پاک مشهور مُفَسِّر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دې حديثِ پاک په شرح کښې فرمائي: (مطلب دا دے چې کله بنده د الله پاک نزدې والے حاصلوي، د هغه محبوب شي نو اوس) دا بنده فَنَا فِي الله شي، په کومې چې خُدائي (يعني د الله پاک ورکړے شوي خاص) طاقتونه د هغه په اندامونو کښې کار کوي او هغه داسې کارونه کوي کوم چې د عقل نه بَهَر وي.[2]

## د حديثِ پاک په يو مثال سره وضاحت

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د اولیائے کرامو رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهِم په مبارکو اندامونو کښې د رَبِّ قادِر او قَيُّوم ورکړے شوے خاص طاقت څنګه کيښودے شي، هغه څنګه کار کوي، په دې خبره باندې د پوهيدلو د پاره حضرت علّامه عبد المُصطفٰے اعظمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: اوګورئ! اوسپنه سيزل نه کوي، بالکل يخه وي، د دې رنګ تور وي خو

---

[1]... بخاري، کتاب: الرقاق، باب: التواضع، صفحه: 1597، حديث: 6502۔

[2]... مرآة المناجيح، جلد: 3، صفحه: 309۔

د یو څو منټو د پاره که اوسپنه د اور په بھټئ کښې کیښودے شي نو اور هغه اوسپنے ته خپله ګرمي او خپل رنګ ورکوي، اوسپنه د اور په شان سرۀ او ګرمه شي، بیا اګرچه اوسپنه هم هاغه ده خو د دې کار بدل شو، مخکښې دا یخه وه، سیزل ئې نه کول، اوس هغه هم ګرمه شوه، دا به هم سیزل کوي. نور غور اوکړئ! بیا اوسپنه اګرچه کار هم هاغه کوي، کوم چې اور کوي خو یو عقل مند به هم دا نه وائي چې اوسپنه اور جوړ شوے دے یا اور اوسپنه جوړه شوې ده. دا صرف د پوهه کولو د پاره یو مثال دے، د دې نه د اولیائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم په شان باندې ځان پوهه کړئ چې اولیائے کرام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم کله د الله پاک کامله فرمانبرداري کوي، خپل ځان د الله پاک په رضا کښې پناه کوي، شپه او ورځ د الله پاک په محبت کښې تیروي بیا الله پاک په خپل فضل او کرم باندې خپل دې بندګانو ته د خپل قدرت او طاقت داسې جلوه عطا کوي چې د دې بندګانو د قدرت او طاقت لیدلو سره د الله پاک قدرت را یادیږي خو په دې ځائے کښې هم بنده بنده دے او الله الله دے.[1]

هم دا خبره یو فارسي شاعر کړې ده:

خاصانِ خُدا خُدا نباشُد | لیکن ز خُدا جُدا نباشُد

یعنې الله والا خدایان نه وي خو یاد ساتئ! چې دوئي د خدائے نه جدا هم نه وي.

## د الله پاک په عطا کښې هیڅ منع نشته

حضرت علّامه عبد المُصطفٰے اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور فرمائي: (د دې نه په یوه بله خبره باندې هم ځان پوهه کړئ!) چې په اور کښې دا قدرت دے چې په یو څو منټو کښې اوسپنے له خپله ګرمي او رنګ ورکولے شي نو آیا رَبِّ کائنات خپل محبوب بندګان د خپل

1... اعظمی کی تقریریں، نورانی تقریریں، صفحہ:144145 بتغیر قلیل۔

قدرت مظهر نشي جوړولے...؟؟ بالکل ئې جوړولے شي،[1] الله پاک د ډيرو قدرتونو مالِك دے، هغه بے نیازه دے، د هغه د عطاګانو هیڅ شمیر نشته، هغه پخپله فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحْظُوْرًا ﴿۲۰﴾ (پاره:15، بنی اسرائیل:20) | مفهوم تَرجَمه کَنْزُ الْعِرْفان: او ستا د رَبّ په عطا باندې هیڅ منع نشته. |

معلومه شوه چې د الله پاک په عطا کښې هیڅ منع نشته، الله پاک چې چا ته څومره اوغواړي عطا کړي. که الله پاک خپلو بندګانو ته بے دریغه قوتونه او کرامات عطا کړي نو د چا څه مجال چې په الله پاک باندې اعتراض اوکړي.

ځکه د کرامت نه انکار کول په اصل کښې د کرامت نه انکار نه بلکه د الله پاک د عطا او د هغه د قدرت نه انکار دے، یعنې کوم کس چې د اولیاؤ کرامات نه مني، هغه چې لکه دا نظریه لري چې الله پاک خپلو بندګانو ته څه نشي عطا کولے. **الامان والحفیظ!** الله پاک دې مونږه د داسې بے ادبئ نه او د داسې غلطې نظریے نه همیشه محفوظه اوساتي. بے شکه کرامت حق دے او د اولیائے کرامو نه ډیر زیات کرامتونه ظاهریږي هم.

## په قرآنِ کریم کښې د کراماتو ذِکر

**اے عاشقانِ رَسُول!** د الله پاک په پاک کلام قرآنِ کریم کښې هم د اولیائے کرامو د ډیرو کراماتو ذکر شوے دے د مثال په طور باندې ❁ اَصحابِ کهف کوم چې د حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام اُمتیان او د اوچتې مرتبے خاوندان دي، د دوئي په باره کښې په

[1]... اعظمی کی تقریریں، نورانی تقریریں، صفحه: 145 بتغیر قلیل۔

قرآنِ کریم کښې پوره سورت موجود دے، په کوم کښې چې بیان شول چې دا د اوچتې مرتبے حضرات تر 300 کالو پورې اوده وو، په دغه موده کښې نه د دوئي بدنونو ته څه نقصان اورسیدو، نه دوئي ته څه قسمه تکلیف اورسیدو، بیا 300 کاله پس دوئي بالکل صحیح سلامت راپاڅیدل، د دوئي سره د دوئي سپے هم وو، هغه هم د غار په دروازه کښې وو، هغه هم د دوئي سره 300 کاله اوده وو، هغه ته هم څه تکلیف اونه رسیدو. امام فخر الدین رازي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: **تر دومره اوګږدې مودې پورې اوده پاتې کیدل، د هغوئي په بدنونو کښې څه قسمه بدلون نه راتلل، بیا صحیح سلامت راپاڅیدل د اصحابِ کهف کرامت دے.**[1]

## بے موسمه میوه میلاویدل هم کرامت دے

هم دغه شان په قرآنِ کریم کښې د حضرت عیسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د مور بي بي حضرت مریَم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا د کراماتو ذِکر هم دے. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا د پئیو ښځو په عمر کښې وه، حضرت زکریا عَلَيْهِ السَّلَام د هغوئي د [مور د طرف نه د] ترور خاوند دے، حضرت مریم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا د حضرت زکریا عَلَيْهِ السَّلَام په کفالت کښې ورکړے شوې وه،[2] په مسجدِ اقصیٰ شریف کښې یوه حجره وه، حضرت زکریا عَلَيْهِ السَّلَام هغوئي هلته اوساتله، د حجرے کنجي به د حضرت زکریا عَلَيْهِ السَّلَام سره وه، د هغوئي نه علاوه به نه څوک دننه تلل، نه به څوک بهر راوتل، د دې باوجود به چې کله حضرت زکریا عَلَيْهِ السَّلَام هغه مبارکې حجرے ته تللو نو هلته به ئې بے موسمه میوې لیدلې،[3] هغه میوې کومې چې به په دغه ورځو کښې په

---

[1]… تفسیر کبیر، پارہ:15، الکھف، زیرِ آیات:1716، جلد:7، صفحہ:444443 خلاصةً۔

[2]… تفسیرِ نعیمی، پارہ:3، آلِ عمران، زیرِ آیت:37، جلد:3، صفحہ:397 خلاصةً۔

[3]… حاشیة الصاوی علی تفسیرِ جلالین، پارہ:3، آلِ عمران، زیرِ آیت:37، جز:1، جلد:1، صفحہ:231۔

مارکیټ کښې نه میلاویدې، هغه میوې به د حضرت مریم رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہا په حجره کښې موجودې وې، بیا حضرت زکریا عَلَیْہِ السَّلَام د حضرت مریم رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہا نه پوښتنه اوکړه: اے مریم! دا میوې تاسو ته د چرته نه راځي؟ حضرت مریم رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہا چې کوم ایمان تازه کوونکے جواب ورکړو، د زړه په غوږونو ئې واورئ! هغوئي اووئیل:

| | |
|---|---|
| هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ یَرْزُقُ مَنْ یَّشَآءُ بِغَیْرِ حِسَابٍ ﴿۳۷﴾ (پاره:3، آل عمران:37) | مفهوم تَرجَمه كَنْزُ الْعِرْفان: دا د الله له طرفه دي، بے شکه الله چې چا ته اوغواړي بے شمیره رزق عطا کړي. |

سُبْحٰنَ اللّٰه! څومره څانګړے او ایمان تازه کوونکے جواب دے، دلته اوګورئ د څومره کراماتو ذکر دے ❀ په ماشومتوب کښې د حضرت مریم رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہا خبرې کول، دا یو کرامت دے ❀ په هغه عمر کښې چې ماشومان صحیح خبرې هم نشي کولے په هغه عمر کښې حضرت مریم رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہا الله پاک اوپیژندو، د هغه په صفتونو پوهه شوه چې هغه رازق هم دے، هغه خالق هم دے، هغه عظیمو قدرتونو والا هم دے، هغه خپلو بندګانو ته د غیبو نه بے موسمه میوې هم عطا کولے شي، په دې هر څه باندې پوهیدل، دا دویم کرامت دے ❀ او د هغوئي په عزت او اکرام کښې بے موسمه میوې راتلل، دا دریم کرامت دے.[1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** معلومه شوه چې ❀ د وَلِـیُّ الله په ماشومتوب کښې د خبرو نه کولو په عمر کښې خبرې کول، دا هم کرامت دے، د دې ذکر په قرآن کښې اوشو ❀ د وَلِـیُّ الله په ماشومتوب کښې د الله پاک پیژندل او په داسې علم پوهیدل په کوم چې په مشکله لوئے لوئے خلق پوهیږي، دا هم کرامت دے، د دې ذکر هم په قرآنِ

[1]...تفسیرِ نعیمی، پاره:3، آلِ عمران، زیرِ آیت:37، جلد:3، صفحه:399 خلاصةً۔

کریم کښې دے ❁ او د غیبو نه رزق میلاویدل، دا هم کرامت دے او د دې ذکر هم په قرآنِ کریم کښې موجود دے.

## د غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د وړوکوالي شریف کرامات

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! دا دې قسمه کرامات د دې اُمت د اولیائے کرامو نه هم ظاهر شوي دي. ❁ داسې ځومره اولیائے کرام دي کومو چې به په وړوکوالي کښې داسې علمي خبرې کولې چې عقل به حیران شو، لرې به نه ځو، زمونږ د غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د وړوکوالي شریف هم ډیر کرامات دي، مثلاً ❁ هغوئي لا پیدا شوي هم نه وو، د هغوئي مور بي بي به چې انتروشے [پرَنجے] اوکړو، هغې به اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! اووئیل نو د خیټې نه به آواز راتللو: يَرۡحَمُكِ الله.[1]

سُبۡحٰنَ الله! دا دے کرامت...!! اندازه اولګوئ! اوس ځومره داسې خلق دي کومو له چې د انتروشي جواب ورځي؟ بلکه ځومره داسې دي چې د انتروشي د جواب ورکولو هم څه تَصَوُّر شته، بیا د عربئ په ګرائمر کښې د غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه مهارت ته اوګورئ! چې کله نارینه انتروشے اوکړي نو د دې په جواب کښې يَرۡحَمُكَ الله وئیلے شي او کله چې زنانه انتروشے اوکړي نو د دې په جواب کښې يَرۡحَمُكِ الله وئیلے کیږي.

سُبۡحٰنَ الله! غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د مور په خیټه کښې ځومره مهارت لرلو، خبرې به ئې هم کولې او په عربئ کښې به ئې د عربئ د ګرائمر د خیال ساتلو سره خبرې کولې. ❁ هم دغه شان د حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه عمر لا 5 کاله وو، کله چې هغوئي په

[1]... مُنّے کی لاش، صفحه: 3 بتغیر قلیل۔

وړومبي ځل د بِسۡمِ الله شریف د رسم د پاره د چا بزرګ په خوا کښې کښیناستو نو هغوئي اَعُوۡذُ بِالله او بِسۡمِ الله اووئیله او د سورۀ فاتحه نه ئې لوستل شروع کړل او18سیپارې ئې اولوستلې! هغه بزرګ اوفرمائیل: ځویه نور اولولئ! اوئې فرمائیل: بس ما ته هم دومره یاد دے ځکه چې زما مور بي بي ته دومره یاد وو، کله چې زه د هغوئي په خیټه کښې ووم، هغه وخت به هغوئي لوستلو، ما به اوریدو او یادولو به مې.[1]

سُبۡحٰنَ الله! دا دے د اولیائے کرامو شان...!! معلومه شوه ډیر اولیاء هغه وي کوم چې پیدائشي اولیاء وي، الله پاک د هغوئي په سر باندې د ولایت تاج کیږدي او دنیا ته ئې رالیږي، ځکه د هغوئي نه په وړوکوالي کښې هم کرامات ظاهریږي.

## د حضرت سیده فاطمة الزهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا یو کرامت

دغه شان د غیبو نه خوراک میلاویدل، دا هم کرامت دے او دا خو هغه کرامت دے کوم چې پخپله د سرکار عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ظاهري ژوند کښې هم اوشو، آو جي! د سیده فاطمة الزهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا د پاره د غیبي خوراک راتللو حکایت واورئ!

## برکت والا لوښے

د قحط په زمانه کښې رحمت عالم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لوږه محسوس کړله نو شهزادګئ بي بي فاطمه زهرا رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا (په یو لوښي کښې) یو پوټے او دوه ډوډئ کیښودې او بارګاه رسالت ته ئې اولیږلې. حضور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دې تحفے سره د حضرت فاطمه زهرا رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا

[1]... مُنّے کی لاش، صفحه:4 بتغیر قلیل۔

خوا له تشريف راوړلو او اوئې فرمائيل: اے زما لورې! دلته راشه. حضرت بي بي فاطمه زهرا رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا چې کله د هغه لوښي نه سر لرې کړو نو هغه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا د دې ليدو سره حيرانه شوه چې هغه لوښے د ډوډو او پوټو نه ډک وو او هغې رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا ته پته اولګيده چې دا د الله په فضل سره دي. حضور اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغې رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا نه پوښتنه اوکړه: اَنّٰى لَكِ هٰذَا؟ يعنې دا هر څه ستا د پاره د چرته نه راغلل؟ نو حضرت بي بي فاطمه زهرا رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا عرض اوکړو: هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ اِنَّ اللّٰهَ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ يعنې هغه د الله سره دي، بے شکه الله چې چا له اوغواړي بے حسابه ورکړي. خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: ټول تعريفونه د الله پاک د پاره دي چا چې تهٔ د بني اسرائيلو د سردار (يعنې حضرت مريم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا) په شان جوړه کړې.

بيا حُضُورِ اقدس صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مولا علي، حضراتِ حسن او حسين او نور اهل بيت رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم راجمع کړل او د ټولو سره ئې د (لوښي نه) اوخوړل او ټول ماړه شول بيا هم خوراک هم هغه همره پاتې وو او هغه حضرت بي بي فاطمه زهرا رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا خپلو ګاونډيانو له ورکړو.

د دې نه پس علامه اسماعيل حقي حنفي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: دغه شان د سلف صالحين، صحابه کرامو، تابعينو او د هغوئي نه پس د هغوئي د پيروئ کوونکو نه کرامات ظاهريږي.[1]

## وَچې کجورے فوراً ميوه اوکړه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** د حضرت عيسٰی عَلَيْهِ السَّلَام د مور بي بي حضرت مريم

[1] ... تَفْسِيْرِ رُوْحُ الْبَيَان، پاره:3، آلِ عِمْرٰن، زير آيت:37، جلد2، صفحه:31۔

رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا يو بل کرامت په قرآن کريم کښې ذکر شوے دے، په 16 سيپاره، سورۀ مريم کښې واقعه ده چې کله د حضرت عيسٰي عَلَيْهِ السَّلَام د ولادت وخت رانزدې شو، حضرت مريم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا يواځې وه، د هغې خوراک ته حاجت وو، د هغې خوا ته د کجورے يو وَچ بوټے وو، د هغې پاڼے هم نه وې، خالي تنه پاتې وه، حضرت مريم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا ته حکم اوشو:

| | |
|---|---|
| وَ هُزِّيْٓ اِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسٰقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا ﴿۲۵﴾ (پاره:16، مريم:25) | مفهوم تَرجَمه كَنْزُ الْعِرْفان: او د کجورے تنه اونيسه او خپل ځان طرف ته ئې اوخوزوه، هغه به په تا باندې ښکلې تازه کجورے را اوغورځوي. |

صحابئ رسول حضرت عبدُ الله بن عبّاس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: هغه تنه بالکل وچه وه کله چې حضرت مريم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا هغه اوخوزوله نو هغې چې اوکتل نو په تنه باندې د پاڅه ښاخونه شوي وو، بيا هغې ميوه اوکړه، ګلونه په کچه ميوه کښې بدل شول، په هغې رنګ راغلے، چوارے جوړې شوې، بيا پخې شوې او تازه رس دارے کجورے جوړې شوې او د هغې رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا مخې ته رااوغورځيدلې. دا هر څه د سترګو په رَپ کښې اوشول.[1]

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه د اولیائے کرامو د لاس لګيدو په برکت وچې تنې شنے کيږي، باغونه کيږي، ګلونه ميوې نيسي، د دوئي د لاسونو په برکت خشک سالي ختميږي. دا هم کرامت دے او د دې ذکر هم چرته اوشو؟ په قرآنِ کريم کښې.

## د دعائے غوثيه برکتونه

خوږ‌و او محترمو اسلامي ورونو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دې اُمّت د اولیائے کرامو نه هم داسې

[1]... تفسيرِ قرطبي، پاره:16، مريم، زيرِ آيت:25، جز:11، جلد:6، صفحه:17۔

کرامات ظاهر شوي دي. شيخ ابو مظفر اسماعيل بني علي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زما په باغ کښې د کجورو دوه وَنې وې، کومې چې بالکل وَچې وې، 4 کاله هغې ميوه نه وه کړې، ما د هغه [وَنو] د وهلو سوچ کولو، بيا داسې اوشول، زما بخت رابيدار شو، حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زما باغ ته تشريف راوړلو، هغوئي د يوې کجورې د لاندې اودس اوکړلو، د بَلې د لاندې ئې لمُونځ ادا کړلو، بيا ئې ما ته دُعا اوکړله: الله پاک دې ستا په زمکه، ستا په درهمو، ستا په پيمانو او ستا په څاروو کښې برکت واچوي.

د هغوئي د دُعا برکت دا شو چې ❀ په هغه کال زما آمدن د مخکښې نه څو چنده زيات شو ❀ ما به چې يو درهم لګولو نو څو چنده ګټه به ميلاويدله ❀ ما د غنمو 100 بوجۍ جمع کړې، په هغې کښې مې 50 صدقه کړې، باقي مې استعمالولې، بيا چې مې اوشميرلې نو پوره 100 بوجۍ موجودې وې، ❀ داسې زما څاروي دومره زيات شول چې هغه به مې شميرلے نه شو او د هغوئي د دعا دا برکت په کلونو زما نصيب وو.[1]

## فاصلے راغونډيل هم کرامت دے

اے عاشقانِ رَسُول! د اولیائے کرامو هغه کرامات د کومو ذکر چې په قرآنِ کريم کښې راغلے دے، په هغې کښې يو کرامت د حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام د صحابي حضرت آصَف برخيا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم دے. په 19 سيپاره سورۂ نمل کښې دا واقعه بيان شوه، د کومې خلاصه چې څه داسې ده چې ملکه بلقيس رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا څوک چې مخکښې غير مسلمه وه، د نمر عبادت به ئې کولو، د يمن ملک ملکه وه، حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام چې

[1]... بَهْجَةُ الْاَسْرَار، صفحه:91۔

د هغې په باره کښې خبر شو نو هغوئي هغې ته خط اوليکلو او د اسلام قبلولو دعوت ئې ورکړو، بيا حضرت ملکه بلقيس رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهَا د اسلام قبلولو په نِيَّت د حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام په لور روانه شوه، د ملکه بلقيس رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهَا يو تخت وو، هغې هغه په 7 محلونو کښې د ټولو آخري محل کښې کيښودو، په اووه واړو دروازو ئې تالې اولګولې. د ملکه بلقيس لښکر د حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام نه تقريبا 3 ميله لرې وو، هغه وخت حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام خپلو درباريانو ته اوفرمائيل: څوک به د ملکه بلقيس تخت دلته راوړي؟ يو پيرې اووئيل: زه به ئې د دربار د وخت ختميدو نه مخکښې حاضر کړم. حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام اوفرمائيل: زه ئې د دې نه هم زر غواړم، بيا حضرت آصف برخيا رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه عرض اوکړو:

| | |
|---|---|
| اَنَا اٰتِيْكَ بِهٖ قَبْلَ اَنْ يَّرْتَدَّ اِلَيْكَ طَرْفُكَ ؕ (پاره:19، النمل:40) | مفهوم تَرجَمه كَنْزُ الْعِرْفان: چې زه به هغه ستاسو په بارګاه کښې ستاسو د سترګو رپولو نه مخکښې راوړم. |

سُبْحٰنَ الله! بيا چې حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام سترګې اورپولې نو تخت راغلے وو.[1] الله!الله! دا دے د وَلِـيُّ الله کرامت...!! په ميلونو لرې فاصله... څو کلو وزن داره تخت... حضرت آصف برخيا رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په شاهي دربار کښې دے، هغوئي د سترګو رپولو په وخت کښې تخت حاضر کړو، د دې نه معلومه شوه چې د اولیائے کرامو د پاره زمکه راغونډولے شي، د هغوئي د پاره فاصله فاصله نه پاتې کيږي، دوئي د سوونه کلوميټره مزل په لږ وخت کښې کوي، دا هم کرامت دے او دا کرامت په کوم ځائے کښې ذکر

[1]...تفسيرِ صراط الجنان، پاره:19، النمل، زيرِ آيت:40، 22، جلد:7، صفحه:193 203 ملتقطًا

شو؟ په قرآنِ کریم کښې.

## امام سیوطي حج له څنګه اورسیدو...؟

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دې اُمت د اولیائے کرامو نه هم داسې ډېر کرامات ظاهر شوي دي. د مثال په طور ❁ امام جلال الدین سیوطي شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل کور، د خپلې کمرې نه په یو څو لحظو کښې مکے مکرمے ته اورسیدو، عمره ئې ادا کړله، بیا ئې واپس هم تشریف راوړلو.

د امام سیوطي شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه یو خادم وو: حضرت محمد بن علي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه. هغوئي فرمائي: یوه ورځ امام سیوطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ما ته اوفرمائیل: که زما د وفات کیدو نه مخکښې ته زما راز نه ظاهروې نو نن د مازدیګر لمُونځ په مکه مکرمه کښې د ادا کولو اراده ده. ما عرض اوکړو: آو جي! ټیک ده (یعنې زه به راز نه ظاهروم). امام سیوطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زما لاس اونیولو او اوئې فرمائیل: سترګے پټې کړه! ما سترګے پټې کړې. مونږه تقریباً 27 قدمه تلي وو چې اوئې فرمائیل: اوس سترګے اوغړوه! ما چې سترګے اوغړولې نو مونږه په مکه مکرمه کښې د جنّتُ الْمَعْلٰی په دروازه کښې وو، بیا مونږه د اُمُّ الْمُؤْمِنِیْن حضرت خدیجةُ الکبریٰ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د مزار مبارک زیارت اوکړو، بیا حرمِ پاک ته لاړو، طواف مو اوکړو، زَم زَم شریف مو اوڅښلې، بیا د مقامِ ابراهیم په خوا کښې ناست وو، بیا مو د مازدیګر لمُونځ اوکړو، د دې هر څه کولو نه پس امام سیوطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ما (یعنې خپل خادم محمد بن علي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته) اوفرمائیل: که غواړې نو زما سره واپس لاړ شه ګنې نو د حاجیانو سره راشه. ما عرض اوکړو: د حضور سره به ځم. مونږ د جنّتُ الْمَعْلٰی د دروازے پورې راغلو، امام سیوطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائیل: سترګے پټې کړه. ما سترګے پټې کړې، لږ

وخت پس ئې اوفرمائیل: سترګے اوغړوه! ما سترګے اوغړولې نو مونږ واپس مصر ته رارسیدلي وو.[1]

## د هر زیارت په ورځ د بریلي نه د مدینے سفر

اعلیٰ حضرت امام اهلسنت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د هر زیارت په ورځ د بریلي نه مدینے منورې ته تشریف وړلو. د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خلیفه مولانا جمیل رضوي ځوي مولانا حمید الرحمان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زه وړوکے ماشوم ووم، ما ته ډیر ښه یاد دي چې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به زما او د هر ماشوم سره په "ستاسو" وئیلو سره خبرے فرمائیلې. رټل، رد بد وئیل د هغوئي په مزاج مبارک کښې نه وو. یوه ورځ زه په بریلي شریف کښې د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په کور کښې حاضر ووم، څوک صاحب د ملاقات د پاره راغلے. دا وخت د عام ملاقات نه وو خو هغه ضد نیولے وو چې د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره خامخا ملاقات کول دي. زه د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خاص کمرے ته د پیغام رسولو د پاره لاړم. خو په ټوله کمره کښې څه چې په ټول کور کښې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چرته هم په نظر رانغلو. مونږه حیران وو چې آخر چرته لاړو، په دې کشمکس کښې ټول حیران ولاړ وو چې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ناڅاپه د خپلې خاص کمرے نه بهر تشریف راوړلو. ټول حیران پاتې شول او پوښتنه ئې اوکړه چې کله مونږه اولټولئ نو تاسو چرته هم په نظر رانغلئ، اوس تاسو هم د کمرے نه بهر تشریف راوړلو، په دې کښې څه راز دے. د خلقو په بیا بیا پوښتنه باندې ئې اوفرمائیل:

اَلْحَمْدُلِلّٰه! زه د هر زیارت په ورځ دا وخت د خپلې دې کمرے (یعنې بریلي شریف

[1] ... اَلْکَوَاکِبُ السَّائِرَه باعیان المائة العاشرة، جلد: 1، صفحه: 229 ملتقطًا۔

نه) مدینے منورې ته حاضري کووم.[1]

جہاں سے چاہیں مدینے کو جا نکلتے ہیں ہمیں زمیں پہ سفر کی اجازت ایسی ہے

## غیر مسلمه ته ئې کلمه اووئیله او ابدال ئې جوړ کړو

هم داسې حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ ...!! هغه خو د اولیاؤ سردار دے، د هغوئي خو څانګړے شان دے. شیخ ابو حسن بغدادي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ فرمائي: زه به تږوله شپه ویخ ووم د پاره د دې چې څه وخت د حُضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ په خِدمت کښې تیر کړم، یوه شپه ما اولیدل: حُضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ د کور نه بهر تشریف راوړلو، ما د اوبو لوټه راوړله، هغوئي دې ته پام اونکړو او دروازې طرف ته ئې تشریف یوړلو، دروازه پخپله برسیره شوه، هغوئي تشریف یوړلو، زه ورپسې هم وروستو وروستو روان شوم، حُضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ د بغداد ښار نه بهر تشریف یوړلو، اوس **لا یو څو قدمه تلے وو چې یو ښار په نظر راغے**، ما هغه ښار مخکښې چرته نه وو لیدلے.

حُضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ هغه ښار ته ننوتلو او یو کور ته ئې تشریف یوړلو، هلته 6 کسان ناست وو، هغوئي اودریدل او د هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ احترام ئې اوکړو او سلام ئې عرض کړو، د دغه کور د یو کوټ نه څه د ژړا او اسویلي آوازونه راتلل، لږه شیبه پس هغه آوازونه بند شول، په دې کښې یو ګس راغے او د هغه کور کوټ ته لاړو او مَړے ئې په اوګه کیښودو او بهر لاړلو. بیا یو ګس د حُضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ په خِدمت کښې وړاندې کړے شو، د هغه بریت غټ غټ، سرتور سر وو او د ظاهري حُلیے نه څوک کافِر ښکاریدو. حُضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ هغه ګس ته کلمَه شهادت اووئیله او

[1]... بریلی سے مدینه، صفحه:32 خلاصةً.

مسلمان ئې کړو، بیا ئې د هغه د سر او بریتو ویښته کټ کړل، ټوپئ ئې ورته په سر کړه او **محمد** نوم ئې ورله کیښودو. بیا باقي پاتې 6 کَسان کوم چې هلته د وړاندې نه موجود وو، هغوئي ته ئې اوفرمائیل: **مونږه د هغه اووم په ځائے دا مقرر کړو.**
دا ئې اوفرمائیل او حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه بهر تشریف راوړلو، **بیا ئې یو څو قدمه اخستي وو چې بغدار ته اورسیدلو.** زه وړېسې هم وروستو وروستو [روان] ووم. حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه خپل کور مبارک ته تشریف یوړلو او زه مدرسې ته لاړم.

زه حیران ووم چې دا څه واقعه ده؟ هغه کوم ښار وو؟ مَړے د چا وو؟ حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه چاته کلمه اووئیله؟ شپه په دې سوچ کښې تیره شوله.

سحر چې کله زه د حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه مخې ته د زدکړې د پاره کښیناستم نو د هیبت په وجه مې ژبه نه خوزیدله. حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه اوفرمائیل: ځویه! ولې نه لولې؟ ما عرض اوکړو: حُضُور! د شپې څه واقعه وه؟ ما ته د هغې په باره کښې اووائې! حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه اوفرمائیل: هغه د (ایران یو ښار) نُهَاوَند وو او هغه 6 کَسان د وخت اَبدالان وو او د کوم چې تا د ژړا آوازونه اوریدل هغه اووم اَبدال وو، د هغه ځنکدن وو، بیا هغه وفات شو.

او هغه کَس کوم ته چې ما کلمه اووئیله او مسلمان مې کړو، هغه د قسطنطنیه اوسیدونکے یو غیر مسلمه وو، ما هغه مسلمان کړو او د اووم اَبدال په ځائے مې مقرر کړو. بیا ئې اوفرمائیل: **اے ابو حسن! تر څو پورې چې زه ژوندے یم دا واقعه چاته هم مه وایه.**[1]

منہ لگاتا نہیں دُنیا میں جسے کوئی بھی | بالیقیں اس کے طرفدار ہیں غوثِ اعظم

[1] ... بَهۡجَةُ الۡاَسۡرَار، صفحه:138۔

کھوٹے سکّے جہاں چل جاتے ہیں وہ ہے بغداد
واں نکمّوں کے خریدار ہیں غوثِ اعظم

ہو کرم! حسنِ عمل آہ! نہیں ہے کوئی
نہ وظائف ہیں نہ اذکار ہیں غوثِ اعظم [1]

## په احادیثو کښې د کراماتو بیان

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د دې ټولو خبرو نه معلومه شوه چې کرامت حق دے، الله پاک خپلو محبوب بندګانو ته، اولیائے کرامو ته دا شان عطا کوي چې د هغوئي نه کرامات ظاهرېږي، په قرآنِ کریم کښې هم د ډېرو کراماتو ذکر موجود دے، دغه شان د حدیثِ پاک په مشهورو او معتبرو کتابونو بخاري شریف او مسلم شریف کښې هم د ډېرو کراماتو ذکر موجود دے. بخپله خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپلو صحابهٔ کرامو علیھمُ الرّضوان ته د تیرو اُمتونو د اولیاؤ کرامات بیان کړل. راځئ! د برکت حاصلولو د پاره په احادیثو کښې د بیان شوو یو څو کراماتو اوریدلو سعادت هم حاصلوو:

## ماشوم خبرے اوکړې

مثلاً په حدیثِ پاک کښې د جُرَیج راهِب د کراماتو ذکر دے، حضرت جُرَیج په مخکښینو اُمتونو کښې یو ولي وو، یو ځل یوې بدکارې زنانه په هغه باندې الزام اولګولو او د خپل ناجائزه بچي په باره کښې ئې اووئیل چې دا د جُرَیج رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ځوي دے، په دې باندې حضرت جُرَیج رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ هغه بیخي وړوکي ماشوم ته اوفرمائیل: ځویه! ستا پلار څوک دے؟ هغه ماشوم د کوم د پیدا کیدو چې یو څو ګھنټے شوې وې، هغه اووئیل چې زما پلار فلانکے دے. [2]

---

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:561560 ملتقطاً۔

[2]... الادب المفرد، باب دعوة الوالدين، صفحه:23، حديث:33 خلاصةً۔

دا د حضرت جُرَیج رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کرامت وو، کوم چې زمونږه آقا او مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بیان اوفرمائیلو او امام بخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دا په خپل کتاب کښې ذکر کړے دے. د دې نه معلومیږي چې د اولیائے کرامو کرامات ظاهریدل هم حق دي او د اولیائے کرامو کرامات بیانول، خلقو ته وئیل زمونږ د خوږ الله کریم هم طریقه ده او زمونږ د محبوبِ کریم، رسولِ عظیم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارک انداز هم دے.

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د اولیائے کرامو د کراماتو اوریدلو او نورو ته د اورولو سره په زړونو کښې د هغوئي محبت زیاتیږي او د دې پاک ایماني محبت په برکت په قبر کښې په حشر کښې، د قیامت په ورځ امن نصیب کیږي او په زړه کښې ایمان مضبوطیږي. ځکه مونږ له پکار دي چې د اولیائے کرامو سره ډیر محبت اوکړو، د هغوئي سیرت هم لولو، د هغوئي د کراماتو، د هغوئي د ایمان تازه کوونکو واقعاتو لوستلو سره، اوریدلو سره ایمان تازه کوو.

## د اولیائے کرامو نه مدد غوښتل څنګه دي...؟

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! لکه څنګه چې اولیائے کرامو ته کرامات عطا کولے شي، داسې دوئي د مخلوق مددګار هم جوړولے شي، دا هم د اولیائے کرامو یو کرامت دے چې د الله پاک دا محبوب بندګان د مدد د پاره د غږ کوونکو آواز اوري او د هغوئي مدد ته ځان رسوي. بعضې خلق په دې باره کښې د شیطاني وسوسو ښکار وي، مثلاً وائي چې الله پاک په مدد باندې قادِر دے نو بیا د غوثِ پاک یا بل یو بزرګ نه مدد ولې اوغواړو؟ جواباً عرض دے چې دا د شیطان د تولو نه خطرناک ګزار دے او داسې پته نه لګي چې شیطان څومره ګمراه کوي. حالانکه الله پاک د چا غیر نه د مدد غوښتلو نه

منع نه ده فرمائیلې بلکه په قرآنِ کریم کښې ځائے په ځائے الله پاک د نورو نه د مدد غوښتلو اجازت ورکړے دے. هسې هم د غوثِ پاک یا د بل یو بزرګ مدد کول د **غیر الله مدد** هډو دے نه، دا هم د الله پاک مدد دے، غوثِ پاک هم مدد فرمائي نو په خپل طاقت سره نه بلکه د الله پاک په عطا سره مدد فرمائي. اوګورئ! د غزوۂ بدر په موقع باندې الله پاک فرښتې د مدد د پاره رااولیږلې. الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِذْ یُوْحِیْ رَبُّكَ اِلَى الْمَلٰٓىٕكَةِ اَنِّیْ مَعَكُمْ فَثَبِّتُوا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا ؕ (پاره:9، سورۂ انفال:12) | **مفهوم ترجَمهٔ کنزُ الایمان:** یاد کړه اے حبیبه! کله چې اے محبوبه ستا رَبّ فرښتو ته وحي لیږله چې زه ستاسو سره یم تاسو مسلمانان ثابت [قدم] اوساتئ. |

دلته اوګورئ! فرښتې هم **غیرُ الله** دي، الله پاک پخپله فرښتو ته اوفرمائیل: اے فرښتو! ایمان والا ثابت قدم اوساتئ! زه ستاسو سره یم.

غور اوکړئ! الله پاک فرښتې رااولیږلې، که چرې الله پاک غوښتلے نو د فرښتو نه بغیر به ئې هم مدد کړے وے، که الله پاک غوښتلے وے نو کافِران به په خپلو کورونو کښې اُلټا شوي وو، د بدر میدان ته به هډو راتللے نه شو خو الله پاک فرښتے رااولیږلې، ولې؟ ځکه چې هغه الله دے، هغه رَبّ دے، هغه قُدرتونو والا دے، هغه چې څه اوغواړي کوي ئې، خوک د هغه نه د پوښتنې کولو همَّت نشي کولے.

بیا غور اوکړئ! په غزوۂ بدر کښې د مدد کولو د پاره څوک راغلل؟ فرښتے راغلې خو الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدْرٍ (پاره:4، سورۂ آلِ عمرٰن:123) | **مفهوم ترجَمهٔ کنزُ الایمان:** او بے شکه الله په بدر کښې ستاسو مدد اوکړو. |

د مدد د پاره څوک راغلل؟ فرښتے. الله پاک څه فرمائي؟ الله مدد اوکړو. معلومه شوه: چې الله پاک ته نزدې بندګان، د الله پاک په عطا سره، د الله پاک په ورکړے شوي طاقت سره مدد کوي نو دا مدد د غیرُ الله مدد نه دے **بلکه دا هم د الله پاک مدد دے** کوم چې د خپلو بندګانو په ذریعه باندې کوي.

## د بنده ګانو نه د مدد [غوښتلو] ترغیب

په **حدیثِ پاک** کښې د بندګانو نه د مدد غوښتلو باقاعده ترغیب موجود دے، د مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم 3 فرامین واورئ! (1) زما د رحم دل اُمتینانو نه حاجتونه غواړئ رزق به بیاموئ.[1] (2) خیر او خپل حاجتونه د ښه مخونو والؤ نه غواړئ.[2]

(3) حاجَت رَوا نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: کله چې په تاسو کښې د چا نه څه څیز ورک شي یا لاره هیره شي او مدد پکار وي او په داسې ځائے کښې ئې چرته چې څوک مددګار نه وي نو هغه له پکار دي چې داسې غږ اوکړي! یَاعِبَادَاللهِ اَغِیْثُوْنِيْ،یَاعِبَادَاللهِ اَغِیْثُوْنِيْ اے د الله (پاک) بندګانو! زما مدد اوکړئ! اے د الله (پاک) بندګانو! زما مدد اوکړئ! چې د الله (پاک) څه بندګان داسې دي کوم چې دے نهویني.[3]

عظیم مُحَدِّث، شارح د صحیح مسلم، علّامه نَوَوِي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: پخپله زما د دې حدیث تجربه شوې ده، مونږه یو څو کَسان یو ځل د یو ځائے په سفر [روان] وو، زمونږه څناور زمونږه نه خلاص شو او اوتښیدو، مونږه د هغه د رانیولو ډیر کوشش اوکړو خو ناکامه شو، په هغه وخت ما داسې غږ اوکړو: اَعِیْنُوْنِيْ عِبَادَالله! اے د الله پاک بندګانو! زما

[1] ... جامع صغیر، صفحه:72، حدیث:1106۔

[2] ... معجمِ کبیر، جلد:5، صفحه:271، حدیث:10947۔

[3] ... معجمِ کبیر، جلد:7، صفحه:48، حدیث:13737۔

مدد اوکړئ! بس دومره وئیل وو چې هغه ځناور اودریدو او مونږه هغه رااونیولو او وړاندې روان شو.[1]

بهر حال خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! که مصیبت راشي، که پریشاني راشي، څه سخته راپیښه شي، حُضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ته په غږ کولو، د هغوئي نه په مدد غوښتلو کښې هیڅ باک نشته. سوونه کاله تیر شول، لویو لویو اولیائے کرامو، علمائے کرامو حُضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ او نور بزرګان د الله پاک د مظهر ګڼړلو سره هغوئي ته غږ کړے دے او د هغوئي نه ئې مدد غوښتلے دے او اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! ډیر زیات ځله تجربه شوې ده چې د الله والؤ نه مدد اوغواړې نو هغوئي مدد کوي.

الله پاک دې زمونږه د اولیائے کرامو سره د محبت کولو، د هغوئي سره د کللک تړون لرلو، د اولیائے کرامو په شان او عظمت باندې د ایمان ساتلو، د هغوئي د ادب کولو، د هغوئي د بے ادبئ نه د بچ کیدو او د دوئي په لار باندې د تللو توفیق نصیب کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم .

## په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: نیک اَعمَال

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! د عاشقان رسول دیني تحریک **دعوتِ اسلامي** د **غوثِ پاک فیضان** دے، فیضان خواجه او رضا بلکه فیضان اولیاء دے، د اولیائے کرامو د مبارکو تعلیماتو زده کولو، د هغوئي د نقشِ سیرت نه د رڼا حاصلولو سره خپل ژوند روښانه کولو، سینه مدینه جوړولو یعني د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم محبت او سنتو باندې د عمل کولو جذبے زیاتولو د پاره تاسو هم د دعوت اسلامي دیني ماحول خپل کړئ! په 12 دیني کارونو کښې هم ښه ډیره برخه واخلئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم!

---

[1] ... اذکار للنووی، کتاب: اذکار المسافر، باب: مایقول اذا انفلتت دابته، صفحه: 415۔

د دنیا او آخرت بے شمیره خیرونه به مو نصیب شي. په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: **نیک اعمال** هم دے.

❁ **الله پاک فرمائي:**

| | |
|---|---|
| وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍۚ (پ28، الحشر:18) | **مفهوم تَرجَمه کَنْزُ الْعِرْفان:** او هر ځان دې اوګوري چې هغه د سبا د پاره څه لیږلي دي. |

❁ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: عقل مند هغه دے کوم چې خپله محاسبه او د مرګ نه وروستو ژوند د پاره عمل اوکړي[1] ❁ د خپل ځان د اصلاح کولو او د شیطان نه د بچ کیدو بهترینه طریقه هم دا ده چې مونږه د خپلو عادتونو، خپل کردار او د خپلو اعمالو جاج اخلو.

❁ **په اوسني وخت کښې** امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د خپل ځان د جاج آسانه طریقه ښودلې ده: **رساله نیک اعمال** (مبلغ له پکار دي چې نیک اعمال رساله د ځان سره ساتي او ښائي دې هم) ❁ د زیات عمر اسلامي ورونړو د پاره په **نیک اعمال رساله** کښې 72 سوالونه او جوابونه لیکلے شوي دي ❁ د هر سوال نه لاندې 30 خانے دي ❁ هره ورځ د سوال لوستلو سره خپل جاج اخستل دي او خانے ډکول دي ❁ د ښه اسلامي ژوند تیرولو دا بهترینه نسخه ده ❁ د دې په ذریعه پته نه لګي چې د څومره خلقو اصلاح شوې ده ❁ **تاسو هم دا رساله واخلئ!** هره ورځ خپل جاج اخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ډیره فائده به وي ❁ اخلاق به ښه کیږي ❁ کردار به ښه شي ❁ عادتونه به ښه شي ❁ په نیکو باندې به استقامت نصیب شي ❁ د ګناهونو نه به نفرت شي ❁ زړه به روښانه شي ❁ د الله محبت به نصیب شي ❁ عشق رسول به زیات

[1] ... ترمذی، ابواب صفة القیامة، صفحه:583، حدیث:2459۔

شي ❀ روحانیت به میلاؤ شي او ❀ د آخرت فکر به نصیب شي. نیک اعمال (*Naik Amaal*) نومې موبائل ایپلي کیشن هم موجود دے، که غواړئ نو دا موبائل ایپلي کیشن په خپل موبائل کښې انستال کړئ! او هره ورځ وخت مقرر کړئ او د دې د خانو ډکولو نیت اوکړئ!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

راځئ د ترغیب د پاره یو مدني سپرلے اورو:

## د ټولې کورنۍ اِصلاح اوشوه

د ضلع اټک (پنجاب، پاکستان) د یو اسلامي ورور بیان دے، ما د ګناهونو نه ډک ژوند تیرولو، فلمونه کتل، لوفري کول، لمُونځونه قضا کول وغیره زما په معمولاتو کښې شامل وو، یو ځل زمونږه علاقے ته د عاشقانِ رسول مدني قافله راغله، په هغوئي کښې یو اسلامي ورور ما ته د ماښام د لمُونځ کولو او بیان کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، زما خوش قسمتي وه چې زه د هغوئي سره جُمات ته لاړم، د ماښام د لمَانځه نه پس بیان ما له ډیره مزه راکړه، د بیان په آخره کښې مبلغ د نیک اعمال رسالے تعارف اوکړو، په رساله نیک اعمال کښې درج د نیکو نه ډک ژوند تیرولو مدني ګل لیدلو سره زه ډیر خوشحاله شوم، د دې رسالے په شکل کښې د شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَهْ د اُمَّت د اصلاح د پاره محنت اولیدلو نو ما لاس په لاس د بیعت کولو د پاره نوم ورکړو او عطّاري جوړ شوم، د وخت د ولئ کامل سره نسبت څه جوړ شو چې د ګناهونو نه بیزاره شوم او نیکو طرف ته مائل شوم، ما د ګناهونو نه توبه کړه او د دعوتِ اسلامي دیني ماحول مې د زړه نه

خپل کړو، د دې په برکت سره هم ښه اثر اوشو، اَلْحَمْدُلِلّٰه! په مزه مزه ټوله کورنۍ قادري، رضوي، عطّاري جوړه شوه، په کور کښې د لمُونځو پابندي شروع شوه، فلمونه ډرامے او سندرې باجے بندې شوې او د ګناهونو نه د ډک چینل په ځائے مدني چینل اولګیدو.

مَدنی اِنعامات کی ہو ریل پیل | نیک ہو امّت اے نانائے حسین[1]

نوټ: د دعوتِ اسلامي په دیني ماحول کښې مدني انعامات ته اوس نیک اَعمَال وئیلے شي.

## د اسلامک اِي بُک ایپلي کیشن تَعارُف

اے عاشقانِ رَسُول! د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډیپارټمنټ له خوا اسلامک اي بک ایپلي کیشن متعارف کړے شوے دے، په دې ایپلي کیشن کښې دا بهترین آپشنز موجود دي:
❀ د دعوت اسلامي د خپرونکي ادارے مکتبة المَدینه چاپ شوي تقریباً ټول کتابونه او رسالے (تقریباً په 38 ژبو کښې) د دې ایپلي کیشن برخه ده ❀ په هفته واره اجتماع کښې کیدونکي لیکلے شوي بیانونه ❀ د دې سره سره د مدني میاشتنو مشورو مدني ګلونه او د مدني مذاکرے سوال و جواب (مختصراً) هم په دې ایپلي کیشن کښې شاملولے شي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د بیان په آخره کښې د سُنّت فضیلت او د ژوند د ځینو آدابو بیانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت ، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره

---

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:258۔

محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

| | |
|---|---|
| سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د رانجو پورې کولو سُنَّت او آداب

د آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: په ټولو رانجو کښې بهترين رانجه اِثمد دي ځکه چې دا نظر روښانه کوي او بانړه راټوکوي.[2]

اے عاشقانِ رَسُول! د کانړي د رانجو په استعمالولو کښې هيڅ باک نشته او ❀ تور رانجه يا ګاجَل د ښائسته کيدو په نيت سره د نارينؤ د پاره پورې کول مکروه دي او که چرې ښائست مقصد نه وي نو بيا مکروه نه دي ❀ رانجه د شپې د اوده کيدو په وخت پورې کول سُنَّت عمل دے ❀ د رانجو پورې کولو د 3 نقل شوؤ طريقو خلاصه ستاسو په خِدمت کښې وړاندې کوو: (1): کله په دواړو سترګو کښې 3، 3 سلايانے (2): کله په ښئ سترګه کښې 3 سلايانے او په ګڅه سترګه کښې 2 (3): نو کله په دواړو سترګو کښې 2، 2 او بيا په آخِره کښې يوه سلائي په رجړومه [د رانجو ګسوره] کښې اووهئ او هغه په نمبر نمبر په دواړو سترګو کښې پورې کړئ د داسې کولو سره به اِنْ شَآءَاللّٰہُ الْکَرِیم! په دريو واړو طريقو باندې عمل کيږي.

اے عاشقانِ رَسُول! د تکريم چې څومره هم کارونه وو هغه ټول به زمونږه خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ښي اړخ نه شروع کول، ځکه وړومبے په ښئ سترګه کښې رانجه پورې

---

[1]...مشکوٰۃ، کتابُ:الْاِیمان، بابُ:الْاِعْتِصَام، جلد:1، صفحه:55، حديث:175۔

[2]...ابن ماجه، کتاب:الطب، باب:الکحل بالاثمد، صفحه:566، حديث:3497۔

کړئ بيا په ګڅه کېنبې.[1]

عجب نہیں کہ لکھا لوح کا نظر آئے! | جو نقشِ پا کا لگاؤں غبار آنکھوں میں

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د **مکتبة المَدينه** د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه **مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي** دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتيں اور آداب** واخلئ او اوئي لولئ! د سنتونو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي په مدني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خُدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو
عِلم حاصِل کرو، جَہْل زائِل کرو | پاؤ گے راحتیں قافلے میں چلو[2]

الله پاك دې مونږ ته د عمل کولو توفيق را عطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره ڪم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او **قَبْر** کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه **قَبْر** کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې

[1]... 550 سنتیں اور آداب، صفحہ: 38۔
[2]... وسائلِ بخشش، صفحہ: 669 ملتقطًا۔

کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ
الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښیناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودریدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریكه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازے

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازے برسیره كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریكه اووائیو:

صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشریف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شریف یو ځل

---

[1] ... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

[2] ... القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیۡ عِلۡمِ اللّٰہِ
صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلۡكِ اللّٰہِ

## ﴿5﴾ قُرْبِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھُم حيران شو چې دا ځوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرۡضٰی لَہٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: ځوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنۡزِلۡہُ الۡمَقۡعَدَ الۡمُقَرَّبَ عِنۡدَكَ یَوۡمَ الۡقِیَامَۃِ

---

[1] ... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانیة والخمسون، ص١٤٩

[2] ... القول البدیع، الباب الاول، ص١٢٥

[3] ... الترغیب والترہیب، کتاب الذکر والدعاء، ٢/٣٢٩، حدیث:٣٠

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکۍ:

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنْہُما نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے یو زر ورځو پورې نیکۍ لیکي.[1]

راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

جَزَی اللہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللہُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ، سُبْحٰنَ اللہِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]... مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث:۱۷۳۰۵

[2]... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵